# د جنسی تیری، ځووروني او تعقیب په باره کی مشوره



T.: +49 64 21.21 43 8
frauennotruf-marburg.de

## که تاسی جنسی تاوتریخوالی لیدلی وی ، نو ددی لاری کولای سی چې مونږ ته مراجعه وکړې:

**تاسی کولای سی چې مونږ هر وخت زنګ ووهی.**

هره دوشنبه د ۱۶ څخه تر ۱۸ بجو او همدارنګه هره پنجشنبه د ۹ څخه تر ۱۱ بجو یوه مشاوره شخصاً کولای سی چې ستاسی سره خبری وکړې او تاسی ته د ټلیفون د لاری لومړې مشوره درکړې. او

په نورو وختونو کی کولای سی چې خپل خبر د ټلیفون د ځواب پر ماشین مونږ ته پریږدی. او مونږ بیا ژر تر ژره ستاسی سره اړیکی نیسو. تاسی کولای سی چې د بریښنالیک (ایمیل) دلاری هم زمونږ سره د مشورې د پاره وخت وټاکی.

**مونږ تاسی ته د نیټ یا آنلاین مشوره وړاندی کوو**

تاسی کولای سی چې زمونږ د کورپاڼی د لاری د معلوماتو خوندی مشورتی پلټ فارم ته لاس رسی وموموی او ددی لاری خپله پوښتنه مونږ ته واستوی.

**ددی وروسته بیا څه کیږی؟**

د میرمنو د عاجله اړیکو یوه کارکوونکي تاسی ته په وړیا توګه مشوره درکوی. دا مشوره په عادی ټول ۶۰ دقیقی دوام کوی. و دی مشورې ته کولای سی چې خپله خورلنچه هم د ځان سره راولی.د یوه ځل او څو ځلو مشورو امکان هم سته.

**میرمنی کارکوونکی**

مونږ دداسي ټیم غړي یو چې ټول ټول کارپوهان ئی مشاورین دی. میرمنی په وړیا او افتخاري ټول او همدارنګه زده کوونکی ددی ټیم سره مرسته کوی.
ټولی میرمنی کارکوونکی په منظمه توګه په عادی او د پوهی د کچې د لوړولو د پاره په کورسونو کی برخه اخلی. مونږ ددغه مشورتی کار په دوامداره نظارت او پاملرنی سره ملګرتوب کوو. پر دی بر سیره دماربورګ دمیرمنو دعاجلو اړیکو اتحادیه د ځایی ،منطقوی او آیالاتی موسسو سره هم اړیکی لری.

**اړیکی**

دماربورګ د میرمنو دعاجلو اړیکو اتحادیه
نویه کسلر شتراسه ۱
۳۵۰۳۹ ماربورګ
ټلیفون: ۰۶۴۲۱۲۱۴۳

mail@frauennotruf-marburg.de
www.frauennotruf-marburg.de

**دټلیفون وختونه**

هره دوشنبه د ۱۶ څخه تر ۱۸ بجو او
هره پنجشنبه د ۹ څخه تر ۱۱ بجو پوری

FRAUENNOTRUF MARBURG

## او چلند په اړه دنارینو د نامعلومه تبصرو او نابېره لمس کولو او جنسی تبصرو څخه نیولی بیا ترجبری جنسی عملونو پورې.

دا تاوتریخوالی هر ځای امکان لری: لکه د کار په ځای کی ، په کور کی ، پر سړک باندی ، د ټلیفون د لاری ، د انټرنیټ دلارې په آزاد او بیکاره وخت کی ، دبنځینه او نارینه ډاکټرانو او روان پوهانو په معاینه خانو کی ، په ملګرتیائی اړیکو کی اود ملګرو او خپلوانو د خوا.

زیاتره اغیزمن کسان دشرم او ملامتیا د حس له کبله نسی کولای چی د دا لیدلی تاوتریخوالی په باره کی چاته کیسه وکړی او یا د چا څخه مرسته وغواړی. ډیر اغیزمن کسان بیا هم خپل ځان ګناهکار بولی ، ځکه چی دوی په دی فکر دی چی ګواهکی ددوی چلند به سم نه وه .

### مګر:

په داسی دردناکه او د تجاوز څخه ډکه اوضاع کی سم او یا غلط چلند نسته ، ولی د خپل ځان د خوندی کیدو او یا د برید په ګواښمن حالت کی دژوندی پاته کیدو له کبله باید یواځی د فطری او غیر شعوری غبرګون څخه کار واخیستل سی. دلته دا مهیمه خبره نده چی دا اغیزمن سوی کس څه ډول جامی اغوستی وی او یا دا اغیزمن سوی کس دامجرم په بنه توګه پیژانده او که نه:
په جنسی تیری ، او همدارنګه هر ډول جنسی تاوتریخوالی کی د اغیزمن سوی کس ګناه او ملامتیا شتون نلري. د جنسی برید مسئولیت یواځی او یواځی د مجرم پر غاړه دی!

## موږ یو

مشورتی دفتر یو او تاسو ته په شخصی توګه ، د ټلیفون او یا د بریښنا لیک )ایمیل(د لاری څخه د جنسی تاوتریخوالی جنسی تیری ،د ځورولو او تعقیب په باره کی مشوره درکوو. ددی مشورتی دفتر چلوونکی یوه ټولنیزه اوغیر انتفاعی اتحادیه ده ، او دا اتحادیه بیا ددی پاره کار کوي چی هر څوک د خپل جنس د ټاکلو حق لري او همدا رنګه دا اتحادیه دپولسو ، قضا ، مذهبونو او ګوندونو څخه بیل په خپلواکه توګه کار کوی.

## موږ و

اغیزمن سوی ښځو او ددوی ملګرو او خپلوانو ته مشوره ورکوو. زموږ هدف دادي چی د هر هغه کس سره مرسته وکړو ، چا چی پخپله دا تاوتریخوالی تجربه کړیدی. دلته حتمی نده چی دا جنسی تیری باید قضائی قانون تائید کړی وی. او همدارنګه زموږ د مشوری د پاره دا خبره هم مهمه نده ، چی داد جنسي تاوتریخوالي تجربه څومره وخت پخوا تر سره سویده.

## موږ د اغیزمن سوو

کسانو سره پدی برخه کی مرسته کوو چی دوي پخپله باید دا پریکړه وکړی ، دمثال په توګه ، چی آیا دوي غواړي چی پر کوم چاباندی عرض وکړی او که نه. په هرصورت موږ د اغیزمنو سوو ښځو پرخوا باندی یو ، موږ ددوي لانجی اومشکل ته غوږ نیسو ، په دوي او ددوي په خبرو باندی اعتبار او باور کوو.

## موږ همدارنګه

که څوک زموږ څخه ددی غوښتنه وکړی ، چي ددوی سره په پټه او مخفی توګه مشوره وشي ، نو دا کار موږ کوو. موږ ددوی ټول معلومات په محرمانه ډول لکه یو راز خوندی ساتو.
موږ په ګرانښتی سره یو خوندی چوکاټ جوړوو ، چیری چی اغیزمن سوی کسان پدی باره کی دفکر کولو وخت لری چی د کومو ګامونو پورته کول ئی مقصد دی. دمیرمنو د عاجلو اړیکو کارکوونکی و مرسته غوښتوونکو کسانو ته وعده اوضامن ورکوی ، چی هر کار به د اغیزمن سوو کسانو په خوښه او اجازه پورته کوی.

**د میرمنو دعاجلو اړیکو کارکوونکی څنګه ستاسی ملاتړ کوی:**

- ستاسی تګ و وکیلانو ته بدرقه کوی
- ستاسی تګ و محکمی او پولیسو ته بدرقه کوی
- ستاسی ټولنیز روانی ملګرتیا کیږی ، دا پدی معنی چی
- مسلکی کسان د جنسی تیریو او تاوتریخوالی قربانیانو ملګرتیااو
- پاملرنه ورته کوی.
- ستاسی ملاتړ په طبی او روغتیاپالنه کی کوي

**تاسی څنګه د نورو کسانو ملاتړ کولای سی:**

که تاسی د جنسی تاوترخوالی څخه اغیزمن سوی کسانو سره ملاتړ کول غواړی ، نو موږ ددي اغیزمن سوو کسانو ټولو ښځینه او نارینه خپلوانو ، ملګرو او دګډ ژوند دملګرو د پاره مشوری وړاندی کوو.

**د مسلکی کسانو د پاره موږ دا لاندی مرستی وړاندی کوو:**

- د اغیزمن سوی کسانو سره دمعاملی د پاره د همکاری نه ډکه پاملرنه او نظارت (سوپرویژیون)
- معلوماتی او مشورتی خبری او اترې
- د لاندی موضوعاتو په باره کی معلوماتی غونډې
- اوسمینارونه :
  » د ماربورګ د میرمنو د عاجلو اړیکو مشورتی کار
  » د جنسی تاوتریخوالی دظاهری بڼی شکل او مداخله
  » د جنسی تاوتریخوالی په صورت کی څرنګه ملاتړ
  » د کار په ځای کی د جنسی ځورونی په وړاندی کړنلاره
  » د معیوبو میرمنو سره د تاوتریخوالی په وړاندی
- دمعیوبینو د مرستی په موسسو کی پدی اړه زده کړې او روزنې

